مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۷ د کب اتمه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۲۷مه | دویم کال| ۳۴۲مه گڼه

# د دوحې ناسته؛
# پر اوربند او بین الافغاني مذاکراتو په راتلونکو غونډو کې خبرې کېږي



۳

## کتاب

۴ مخ

### مشري؛ د کاروباري چارو مدیریت




په ټوله کې مو کتاب له یوازیتوب او په یوازې ځان د کارونو له سرته رسولو راگرځوي، د ډله ییز کار او د هغه د اغېزمنو او په کم وخت کې یې د پایلو په لاسته راوړلو سره ستاسې پوهاوی زیاتوي.

## لښکرگاه کې دوې رغنیزې پروژې گټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د هلمند په مرکز لښکرگاه کې د کرنې په برخه کې دوې رغنیزې پروژې له بشپړېدو وروسته گټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د هلمند د کرنې رییس زلمي الکو پرون رسنیو ته ویلي، چې په دغو پروژو کې د کرنې په برخه کې د څېړنیز فارم لپاره ودانۍ او د کرنې د څېړنې او ارزونې مرکز شامل دی.

زلمي ویلي چې د دغو پروژو پر جوړېدو ۳۵ میلیونه افغانۍ لگول شوې، چې په یادو برخو کې ډېرې گټورې تمامېدای شي.

په ورته وخت کې د لښکرگاه اوسېدونکي له یادو پروژو هرکلی کوي، خو وایي چې که حکومت له دوی سره د کرنې په برخه کې د لازمو مشورو او اصلاح شویو تخمونو مرسته وکړي، د دوی حاصلات به ورسره زیات او په دې برخه کې به یې شته ستونزې راکمې شي.

### د هند او پاکستان لانجه او پر افغان سوله یې مثبت اغېز

۲ مخ

### د خو اړخیز ټاکنیز (MDR) سیستم پېژندنه او تحلیل

۲ مخ

### په داسې بریدونو سره به پاکستان اصلاح شي!؟

۳ مخ

## لاریونوال: افغان ځواکونه د طالبانو په نوم عام خلک وژني

د میدان وردگ ولایت اوسېدونکو په دغه ولایت کې د ملکي وگړو د وژل کېدو په غبرگون کې لاریون وکړ.

د دغه ولایت اوسېدونکو تېره ورځ په کابل ښار کې د لاریون په ترسره کولو سره په دغه ولایت کې د ملکي وگړو د وژلو او پر ملکي سیمو د افغان او بهرنیو ځواکونو له عملیاتو سره مخالفت وښود.

د دغه ولایت اوسېدونکي وایي، افغان او بهرني ځواکونه په دغه ولایت کې د طالبانو په نوم عام خلک وژني، د خلکو کورونه په بمونو الوزوي او ملکي سیمې بمباروي.

لاریون کوونکي وایي، گډ ځواکونه په قصدي ډول ملکي سیمې په نښه کوي او په شپنیو عملیاتو کې د طالبانو په نوم ملکي وگړي وژني.

د یاد ولایت اوسېدونکو په کابل کې د بشري حقونو کمېسیون مخې ته په یوه پرېکړه لیک کې له حکومت او اړوندو ادارو غوښتنه وکړه، چې په دغه ولایت کې د ملکي وگړو د وژنې عاملان په نښه او مجازات کړي.

معترضینو خبرداری ورکړ چې که غوښتنې یې ونه منل شي، نو د کابل کندهار لویه لاره به وتړي.

بلخوا د بشري حقونو کمېسیون مسوولانو د معترضینو له غوښتنو ملاتړ کړی او ویلي یې دي چې په یاد ولایت کې د وروستیو پېښو د څېړنې لپاره یې یو پلاوی استولی دی.

د وردگو ولایت اوسېدونکي داسې مهال په دغه ولایت کې د ملکي وگړو د وژنې مخنیوي لپاره غږ پورته کوي، چې څو ورځې وړاندې افغان او بهرنیو ځواکونو په دایمیرداد ولسوالۍ کې پنځلس ملکي وگړي ووژل.

## پراخ اداري فساد د کورنیو چارو وزارت چارې زیانمنې کړې دي



۵ مخ

## ریتر: امریکا پس از تأمین صلح، افغانستان را از طریق سرمایه گذاری حمایت می کند




رئیس اتاق تجارت افغانستان- امریکا می‌گوید که ایالات متحده، پس از تأمین صلح در افغانستان، این کشور را از طریق سرمایه گذاری و افزایش روابط تجارتی حمایت می کند.

این مطلب را هان دان ریتر (Hon Don Ritter) رئیس اتاق تجارت افغانستان- امریکا، دیروز در نشست مقدماتی برای چهاردمین کنفرانس سالانۀ تواصل تجارتی افغانستان - امریکا که به تاریخ ۳۰ اپریل سال روان در شهر واشنگتن ایالات متحدۀ امریکا برگزار می‌شود، بیان داشت.

وی گفت که هدف از راه اندازی کنفرانس تواصل تجارتی، افزایش میزان تجارت میان دو کشور و تشویق سرمایه گذاران امریکایی، به سرمایه گذاری در افغانستان می‌باشد.

موصوف افزود: «امروز ما اینجا هستیم که ارتباطات تجارت خود را افزایش دهیم و بهبود ببخشیم، ما به آینده افغانستان به یک دید مثبت می بینیم، ما باور داریم که صلح در افغانستان تأمین می‌شود، وقتی که صلح می آید، فرصت های تجارتی و سرمایه گذاری در این کشور افزایش می‌یابد».

او با بیان اینکه چانس برای تأمین صلح در این کشور بیشتر شده است گفت: «ما می خواهیم به شما وضاحت و وعده بدهیم که امریکا پس از تأمین صلح در افغانستان، افغانستان را از طریق سرمایه گذاری و افزایش روابط تجارتی حمایت می کند. ما می خواهیم که سکتور خصوصی فعال در افغانستان وجود داشته باشد، از طریق سرمایه گذاری های بزرگ در اقتصاد این کشور کمک کنیم».




دریـځ

## د هند او پاکستان لانجه او پر افغان سوله يې مثبت اغېز

لـه ځـو ورځـو راهیسـې ویـل کېـدل چـې هنـد د پاکسـتان تـر کنټـرول لانـدې سیمه کـې پـر ځینـو هدفونـو د برید نیت لري. هنـد بالاخره د پاکسـتان پـه بالاکـوټ سیمه کـې د جیـش محمـد تـر ټولـو سـتر مرکـز پـه نښـه کـړ. هندي چارواکـو ادعـا کـړې ده، چـې په دغـه برید کې د جیـش محمـد ډېـر وسـله وال، روزونکـي او مهـم قومندانـان وژل شـوي دي. د پاکسـتان د ملـي امنیت شـورا لـه بریـد وروسـته بېړنـی غونـډه کـړې ده او عمـران خـان ویـلي چـې د هنـد هوایـي بریـد تـه بـه پـه مناسـب وخـت ځـواب ورکـړي.

کـه څـه هـم لـه دې بریـد وروسـته د نورو نښـتو شـونتیا شـته، خو داسـې نه ښـکاري چـې هند او پاکسـتان بـه کومـې لویـې جګـړې تـه ولاړ شي. هنـد نه غواړي تـر دې وړانـدې ولاړ شي او دا بریـد یـې هـم په هند کـې دننـه عامه ذهنیت تـه د ځـواب ویلـو لپـاره کـړی دی. د پاکسـتان غبرګـون هـم تـوند او تېز نـه و او د نظامي ځواب بحـث جدي نـه دی.

د هنـد او پاکسـتان ترمنـځ پـه دې ترینـګلي حالت کې د افغانسـتان د سـولې خبـرې روانې دي، چـې ویـل کېـږي دا کړکېـچ بـه پـرې اغېز کـوي. څـو ورځـې وړانـدې پـه کابـل کـې د پاکسـتان سـفیر ویـلي وو چـې پـر پاکسـتان د هنـد بریـد بـه د افغـان سـولې خبـرې زیانمنې کـړي، خـو داسـې ښـکاري چـې روانـه لانجـه د افغـان سـولې پـه خبـرو کـې د خنډ پر ځـای د سـولې لـه چـارې سره مرسـته کـوي. پاکسـتان کلونـه کلونـه حـاضر نـه و چـې د سـولې پـه پروسـه کـې مرسـته وکـړي. ان تـر څـو ورځـو وړانـدې پـورې حاضر نـه و چـې ملا بـرادر او نورو طالـب مشرانـو تـه اجازه ورکـړي چـې قطر تـه ورشي، خـو کلـه چې په هندي کشمير او ايران کـې لـه چاودنـو وروسـته پاکسـتان لـه سيمه ییـز او نړیـوال فشـار سره مـخ شـو، نـو د افغان سـولې پـه برخـه کـې د هغـو ګامونـو اخیسـتلو تـه تیـار شـو چـې پخـوا یـې نـه وو اخیسـتي. د هنـد تـر کنټـرول لانـدې کشـمیر کـې لـه برید وروسـته امریـکا د هنـد پـه څنـګ کـې ودرېدله او پـر پاکسـتان یـې فشـار زیات کـړ. پاکسـتان هـم د دې لپـاره چـې د امریکا ملاتـړ ورسره وي، نـو مجبـور شـو چـې امریـکا تـه ځینـې داسـې امتیـازات ورکـړي چـې پخـوا یـې نـه وو ورکـړي. د پاکسـتان لـه خوا امریکا ته سـتر امتیـاز همدا و چـې طالبـان یې قطر ته پرېښـودل او هلته يې لـه امریکا سره پـه خبـرو کـې برخـه واخسـیته.

اوس هـم پاکسـتان غـواړي لـه امریـکا سره د سـولې پـه پروسـه کـې مرسـته وکـړي، څـو پـر پاکسـتان د هنـد د ممکنـه بریـد مخـه ونیسـي او یـا لـه دې اړخـه پر پاکسـتان د هنـد او نړۍ د فشـارونو پـه کمولـو کـې مرسـته وکـړي.

تـر هغـو چـې د هنـد او پاکسـتان ترمنـځ همدا ترینګلـی حالـت وي او پاکسـتان د وېـرې احسـاس وکـړي، نـو دوی بـه اړ وي چـې لـه امریکا سره د سـولې پـه پروسـه کـې مرسـته وکـړي. پاکسـتان به هغـه وخت د افغان سـولې پـه پروسـه کـې خنډ پیـدا کـړي، چـې هنـد پر پاکسـتان لـوی بریـد وکـړي او دواړه هېوادونـه جګـړې تـه ولاړ شي. دا هغـه څـه دي چـې نـه یـې هنـد غـواړي او نـه هـم امریکا هنـد تـه د داسـې کـوم ګام د پورتـه کولـو اجازه ورکـوي، خـو اوس چـې څـه روان دي او هنـد چـې کـوم ګامونـه اخلـي، دا له امریکا سره د افغان سـولې پـه پروسـه کـې مرسـته کـوي.

# د څو اړخیز ټاکنیز (MDR) سیسټم پېژندنه او تحلیل

لیکنه: ادم خان سیرت

په نړۍ کې د ټاکنیزو سیسټمونو ډولونه تر سلګونو هغو اوړي، خو ټول ټاکنیز سیسټمونه په لویه کې له دریو ډولونو څخه نه اوړي او بیا همدغه ټاکنیز سیسټمونه په لسو مشهورو ډولونو وېشل شوي او د همدغو لسو په اجزاوو کې بیا لسګونه نور ټاکنیز فرعي سیسټمونه شته چې د ټولو اصلي سرچینه لاندې دریو ټاکنیزو سیسټمونو ته رسېږي:

۱. اکثریتي نظام
The plurality _Majority ( PM)
۲. تناسبي نظام(The Proportional)
۳. نیمه تناسبي نظام
The Semi-Proportional (SPR)

د ټاکنیز سیسټم پېژندنه: ټاکنیز سیسټم له هغو قواعدو او سیسټم څخه عبارت دی چې په هغه کې د نوماندانو او رایه ورکوونکو شرایط، حقوق، وجایب او دندې او همدارنګه د رایې اچونې شکل او جوړښت، د رای شمېرنې طریقې، د رای شمېرنو پایلې او د ټاکنیزو مسایلو په اړه راپورته شویو شکایتونو ته د رسیدګۍ لارې چارې مشخصېږي او یاهم ټاکنیز سیسټم هغو قواعدو ته ویل کېږي چې د خلکو رایې پر څوکۍ باندې تبدیلوي.

**ټاکنیز سیسټم له لاندې څلورو برخو څخه جوړ شوی دی:**

**۱- ټاکنیزه حوزه:** له هغه جغرافیایي واحد څخه عبارت ده، چې په هغې کې رایې پر څوکۍ بدلېږي. په دې مانا که د یوې ټاکنیزې حوزې د څوکیو شمېر څلور وي، نو د همدې حوزې اړوند په شرایطو برابر کسان نوماندانو ته رایې ورکوي او د لوړو رایو کټونکي نوماندان چې څلور تنه کېږي، بریالي پېژندل کېږي.

**۲- ټاکنیز فورمول:** هغه ریاضیکي طریقه او فورمول دی، چې رایې پر څوکۍ بدلوي. په دې مانا چې ټاکنیزې څوکۍ پر نفوس وېشل کېږي او د همدغه ټاکل شوي ریاضیکي فورمول له مخې ټاکنیزې حوزې رامنځته کېږي.

**۳- د نصاب حد:** هغه اندازې ته وایي چې د رایو شمېرنه ځانګړې پایلې ته ورسېږي او په دې سره نوماندان بریالیتوب ته ورسېږي او د واک څوکۍ که هغه د استازو مجلس وي او که د جمهوري ریاست وي، لاسته راوړي.

**۴- د رایو د جوړښت سیسټم:** دغه سیسټم دا واضح کوي چې سیاسي ګوندونه او یاهم بانفوذه اشخاص په څومره اندازه کولای شي، چې مورد نظر څوکۍ ترلاسه کړي.

د افغانستان د اساسي قانون او په هېواد کې مروج ټاکنیز سیسټم د ولسي جرګې، ولایتي شورا، ولسوالۍ شورا، کلیوالي شورا او د ښاروالیو شوراګانو کې د انتقال نه وړ رایې سیسټم منل شوی و.

خو د ولسمشرۍ سیسټم هماغه د نړۍ د مشهور سیسټم له مخې چې د اکثریتي نظام یو مهم ډول دوه دوره یي ((TRS (TR=Two Round System)) دی، ترسره کېږي.

د ټاکنو په تقنیني فرمان کې وروستي تعدیلات چې له مخې یې د یاد قانون د ۲۰ مادو تعدیل د کابینې له تصویب وروسته د ولسمشر له خوا توشیح شو، د ټاکنیز سیسټم د تغیر ترڅنګ پکې په ځینو مهمو مسایلو بحث شوی، چې د دې لیکنې محتوا یوازې په همدې تعدیل شویو مادو کې د ټاکنیز سیسټم تغیر رانغاړي.

د وروستي تقنیني فرمان له مخې د ولسي جرګې، ولایتي شورا او ولسوالیو شوراګانو ټاکنو په اړه چې پخوا د(Single (non-transferable vote انتقال نه وړ رایې سیسټم څخه استفاده کېده، چې پر ځای یې مختلط یا څو بعدي سیسټم(Multidimensional (representation ومنل شو.

دا چې د افغانستان د اوسنیو شرایطو لپاره کوم سیسټم مناسب دی، هم پرې بحث کوو، خو تر هرڅه لومړی نوموړی سیسټم تشریح کوو.

څو اړخیز (MDR) سیسټم په اصل کې له تناسبي سیسټم څخه سرچینه اخلي او د هغې فرعه ګڼل کېږي، خو په ځینو مسایلو کې له تناسبي سیسټم سره هم توپیرونه لري چې همدغه توپیرونه په اصل کې د همدغه نظام ځانګړتیاوې موږ ته رابښيي، چې مهمې ځانګړتیاوې یې په لاندې ډول دي:

۱- په نوملړ(فهرست) کې داخل چې رایه پکې د لېږد وړ ده. په دې مانا چې د څوکۍ لپاره له مشخصو شویو رایو څخه د نوماند اضافي رایې بل حزبي یا ائتلافي نوماند ته چې په نوملړ کې شامل دی، د لېږد وړ دي.

۲- د خپلواکو کسانو نوماندېدل او د دوی رایې په هغه شرط د لېږد وړ دي، چې پخوانۍ ائتلاف یې له خپلواکو نوماندانو سره کړی وي او په نوملړ کې یې نوم وي.

۳- په هغو ټاکنیزو څوکیو کې ډېر د پلې کېدو وړ دی، چې د ډېرو څوکیو لرونکې وي، لکه ولسي جرګه، ولایتي او کلیوالي شوراګانې.

۴- په کوچنیو حوزو کې هم د پلې کېدو وړ دی، په دې مانا چې د یو ولایت لپاره ځانګړې شوې څوکۍ د هماغه ولایت د نفوسو او عیني واقعیتونو په تناسب، په کوچنیو حوزو ووېشل شي او د ټاکل شوې څوکۍ مشخصه جغرافیه او سیمې ورته وټاکل شي.

۵- د ګوندونو او ائتلافونو ترڅنګ خپلواک نوماندان هم کولی شي ځان پکې نوماند کړي.

٦- د حزبونو او ائتلافونو لپاره زیات ګټور حسابېږي چې په همدې موخه د سیاسي حزبونو له خوا یې ملاتړ کېږي.

۷- په دغه سیسټم کې د ازادو او خپلواکو نوماندانو رایې، چې په مخکې یې ائتلاف نه وي کړی، د انتقال وړ نه دي.

د څو بعدي Multidimensional (representation ) سیسټم ځانګړنه دا ده چې په دغه سیسټم کې رایه اچوونکی د یو نوماند پر ځای لاندې ډلو ته هم رایه ورکولی شي:

۱- خپلواک نوماند ته
۲- سیاسي ګوند ته
۳- د خپلواکو نوماندانو ائتلاف ته
۴- د سیاسي ګوندونو ائتلاف ته

په دغه سیسټم کې په یوه ټاکنیزه حوزه کې د ټولو معتبرو اچول شویو رایو مجموعه، پر ټاکل شویو څوکیو باندې وېشل کېږي او په پایله کې د یوې څوکۍ لپاره ځانګړو شویو رایو باندې د ښکېلو خواوو ترمنځ رقابت او سیالي کېږي او د سیالي کوونکو نوماندانو له خوا تر لاسه شوې رایې د ځانګړو شویو څوکیو په تناسب ټاکل کېږي.

د (SNTV) سیسټم په خلاف په دغه سیسټم کې رایې کمې ضایع کېږي؛ ځکه د دغه سیسټم له مخې د مشخص نوماند لپاره د یوې څوکۍ لپاره له ټاکل شوې اندازې څخه اضافي رایې په فهرست کې بل نوماند ته، چې د همدغه نوماند له ګوند او ائتلاف څخه وي، انتقالېږي او له رقیب ټیم څخه مخکې کېږي.

په دغه سیسټم کې د سترو ګوندونو د نوماندانو چانس د کوچنیو ګوندونو د نوماندانو په پرتله زیات وي. له همدې کبله نوموړی سیسټم په هغو هېوادونو کې چې ستر احزاب پکې وي، زیات ملاتړي لري.

د څو اړخیزه سیسټم د پېژندنې لپاره اړینه ده چې ځینې پوښتنې مطرح او ورته مناسب ځوابونه پیدا کړو، څو د مسئلې په حل کې مرسته وکړي.

**اشخاص څنګه کولی شي ځانونه نوماند کړي؟**

په دغه سیسټم کې له دوو لارو څخه اشخاص کولی شي چې ځانونه انتخاباتي څوکیو ته نوماندان کړي.

۱- د سیاسي ګوند، سیاسي ائتلاف او یاهم د خپلواکو نوماندانو د ائتلاف له مخې.

۲- په ازاد او خپلواک ډول هر هېوادوال کولی شي چې د خپلواک شخص په توګه ځان نوماند کړي.

**د نوماندانو د نوملړ جوړولو میکانېزم څرنګه صورت مومي؟**

په دغه سیسټم کې د نوماندانو فهرست په دریو طریقو سره ترتیبېږي.

۱- د خپلواکو نوماندانو له خوا د ترسره شوي ائتلاف له مخې چې دوی وغواړي له انتقال شویو رایو څخه استفاده وکړي، ځانګړی نوملړ یې جوړېږي.

۲- د سیاسي ګوندونو د ائتلاف نوملړ له مخې په دې کې شاید د لویو او یاهم کوچنیو ګوندونو ترمنځ یو سیاسي ائتلاف رامنځته شي او د همدغه ائتلاف له مخې یې فهرست جوړېږي، چې په دې کې شاید کوچنیو ګوندونو ته هم د څوکیو وېش ورسېږي او خپل استازي په انتخاباتي ځایونو کې ولري.

۳- د سیاسي ګوندونو په نوملړ کې ګوندونو ته د دې فرصت ورکول کېږي چې خپلمنځي رقابت وکړي او هم افرادو ته د دې فرصت برابرېږي، چې په زیاتو بدیلونو کې خپل انتخاب وکړي.

**د رایې ورکوونکو انتخاب څنګه صورت نیسي؟**

په څو اړخیز یا څو بعدي سیسټم (MDR) کې د خپلې خوښې انتخاب په دوو طریقو صورت نیسي.

لومړی: په شرایطو برابر رایه ورکوونکي چې قانوني عمر یې پوره کړی وي، د خپلې خوښې نوماند نوم په نوملړ کې په اسانۍ سره پیدا کوي او رایه ورکوي. که نوماند خپلواک وي، نو د شخص رایه بیا بل نوماند ته د انتقال وړ نه ده.

دویم: په دغه سیسټم کې هم د نوماندانو نومونه د یوې کتابچې په شکل چاپېږي او هم هر شخص پکې د خپلې خوښې نوماند ته رایه ورکوي. که نوماند د سیاسي ګوند له خوا وي، یا د سیاسي ائتلاف له خوا وي او یا هم که د خپلواکو نوماندانو د ائتلاف له خوا وي، د رایې ورکوونکي له خوا یې نوم په نښه کېږي او رایه ورکوي، خو په دې صورت د رایه ورکوونکي رایه بیا د انتقال وړ ده.

**په دغه سیسټم کې رای شمېرنه څنګه صورت مومي؟**

په دغه سیسټم کې رای شمېرنه په مختلفو بڼو سره صورت نیسي چې موږ کولی شو دلته یې څو بېلګې وړاندې کړو:

الف- د یوې ټاکنیزې حوزې ټولې رایې په لومړي سر کې پر ټولو ټاکل شویو څوکیو باندې وېشل کېږي، څو چې د یوې څوکۍ سهم او اندازه معلومه شي، که خپلواک نوماند د یوې څوکۍ لپاره ځانګړې شوې رایې چې د تقسیم پر اساس څوکۍ ته ور وتلې دي، پوره کړي، نو ګټونکی ګڼل کېږي او د همدغه شخص اضافي رایې چې بل نوماند ته نه انتقالېږي او اضافي رایې ضایع کېږي.

ب- د هر (سیاسي ائتلاف، سیاسي حزب او خپلواکو نوماندانو ائتلاف) نوملړ ټولې رایې د څوکۍ لپاره د مشخصو شویو رایو له اندازې سره کتل کېږي او په دې سره د همدغه نوملړ لپاره د ګټونکو څوکیو اندازه پکې معلومېږي او وېش صورت نیسي.

ج- پاتې شمېر نوملړونه چې یوه یا څو څوکۍ یې ترلاسه کړې دي او یا هغه فهرستونه او خپلواک نوماندان چې د څوکۍ لپاره ځانګړې شوې رایې یې نه دي پوره کړې، په ټولو کې د لوړو رایو وړونکي حساب له مخې معلومېږي او په هماغه حوزه کې پاتې شوې څوکۍ د فهرست لرونکو او خپلواکو نوماندانو باندې وېشل کېږي، چې په ترتیب سره یې زیاتې رایې وړې دي او ګټونکي شمېرل کېږي.

**د ښځو لپاره ځانګړې شوې څوکۍ څنګه ټاکل کېږي؟**

که په ټاکل شوې انتخاباتي حوزه کې د ښځو شمېر د هغه څه نه چې په دغه سیسټم کې ورته وړاندوینه شوې، د ګټونکو کسانو په لېست کې د ښځینه وو لپاره اختصاص شویو څوکیو په تناسب، که ښځې نه وي، نو د فهرستونو سهمونو د شمېرو د اصل له مخې بیا د ښځو ترمنځ هرې نوماندې چې لوړې رایې ترلاسه کړې وي، په هماغه ټاکل شوي فهرست کې د نارینه پر ځای او یا هم د خپلواک نوماند پر ځای تعویض کېدای شي او ګټونکې پېژندل کېږي.

پورته څرګندونو ته په کتو، په اوسني تعدیل شوي قانون کې په همدې خاطر نوموړي څو بعدي سیسټم ته ځای ورکړی، چې هم پکې خپلواک نوماندان، هم پکې سیاسي ګوندونو، هم پکې د سیاسي ګوندونو ائتلاف او هم پکې د خپلواکو نوماندانو ائتلاف سیالي وکړای شي او نوموړی سیسټم یوازې د قانون له مخې په هغو ټاکنو کې چې ډېرې څوکۍ (ولسي جرګې، ولایتي شورا او ولسوالیو شوراګانو) کې ترې کار اخیستل کېږي او د ولسمشرۍ ټاکنې د پخواني سیسټم اکثریتي(TR=Two Round ) له خوا ترسره کېږي.

له تېرو څو کلونو را پدېخوا په افغانستان کې شته ګوندونو چې لا هم ډېری یې د قانون له مخې ملي او پر شرایطو برابر نه دي، د دې هڅه کوله چې د ولسي جرګې، ولایتي شورا او ولسوالیو شوراګانو ټاکنې چې زیاتې څوکۍ لري، له (SNTV) سیسټم څخه په څو بعدي سیسټم (MDR واړوي او بالاخره حکومت له نوماندانو او سیاسي ګوندونو سره په ناستو کې دې پایلې ته ورسېدو، چې نوموړی سیسټم تغیر کړي.

دا چې د حکومت دغه ترسره شوی اقدام څومره قانوني او له اساسي قانون سره سمون خوري، له بده مرغه چې پاملرنه ورته نه ده شوې.

په ټاکنیزو سیسټمونو کې تغیر باید د اساسي قانون له تعدیل وروسته صورت ونیسي. اوسنی تعدیل شوی قانون چې له مخې یې ټاکنیز سیسټم تغیر کړی، د اساسي قانون له لاندې مادو سره مغایرت لري:

د اساسي قانون د ٦١ ، ۸۳ ، ۱۳۷، ۱۴۰، ۱۴۱ مادو پر اساس، د افغانستان په حقوقي نظام کې د انتقال وړ رایې سیسټم نشته، زموږ ټول انتخابات د مستقیمې، واحدې او غیر قابل انتقال رایې پر اساس ترسره کېږي. پورتنیو مادو ته په کتو، جمهور رییس، د ولسي جرګې غړي، د ولایتي شوراګانو غړي، د ولسوالیو او کلیوالي شوراګانو غړي او حتی ښاروال د خلکو په مستقیمو رایو ټاکل کېږي او مستقیمه رایه چې رایه ورکوونکی یې مخامخ کاندید ته ورکوي، بل کاندید ته نه شي انتقالېدای.

نو همدغو پورته قانوني موادو ته په کتو، د یاد سیسټم تغیر د اساسي قانون له حکمونو سره په ټکر کې دی چې ولسي جرګې ته د نوموړي قانون د لېږلو پرمهال تقنیني قوه باید پرې بیا کتنه وکړي.

**د څوبعدي ټاکنیز نظام ستونزې:**

۱ . د ائتلافي حکومتونو او ډلو رامنځته کول چې موثریت او ښه تجربه نه لري

۲ . په ولسي جرګه، ولایتي شورا او ولسوالیو شوراګانو کې د ښي او چپ افراطي ډلو قدرت تر لاسه کول

۳ . د ائتلاف د غړو ترمنځ د پالیسۍ نشتوالی چې یوازې په پارلمان کې د څوکیو د ګټلو په خاطر سره راټول شوي او نوره به د ولس لپاره داسې منظمه برنامه ونه لري

۴ . ټاکنیزو بنسټونو او رایه ورکوونکو ته د دغه ډول سیسټم د تطبیق سختوالی او په اړه یې کم پوهاوی

۵. د ښځینه وو لپاره د ځانګړو شویو څوکیو په وېش او څرنګوالي کې پېچلتیا او مغلقوالی.

بالاخره دې پایلې ته رسېږو چې په اوسنیو شرایطو کې چې سیاسي ګوندونه مو تر سمت، ولایت او تر کورنۍ محدود او لا هم د ملي کېدو منظم پړاوونه یې نه دي وهلي او تکامل ته رسېدو لا ډېر مزل په مخکې لري او ترڅنګ یې په داسې ټولنه کې چې ولسواکي هم پکې بنسټیزه شوې نه ده، د یو داسې نوي او مغلق سیسټم تجربه کول به له زیاتو تېروتنو او نیمګړتیاوو څخه خالي نه وي.

# په داسې بریدونو سره به پاکستان اصلاح شي!؟

لیکنه: شفیق همدرد

هند او پاکستان په تېرو ۷۱ کلونو کې څلور وارې په خپلو کې سره جنګېدلي دي. لومړنی جنګ یې په ۱۹۴۷ ز کال کې د کشمیر پر سر و، چې تر یوه بریده پاکستان وتوانېد څو د پښتنو قبایلو په مرسته، د اوسني ازاد کشمیر او ګلګت بلتستان ځینې سیمې ونیسي، خو د کشمیر د هغه مهال واکمن هري سینګ له هنده وغوښتل چې مداخله وکړي او هغه وو چې هندي ځواکونه میدان ته راغلل او د کشمیر لویه برخه چې جمو کشمیر او لداخ سیمې دي، تر خپل کنټرول لاندې یې راوستې او د پاکستان مخه یې و نیوله. دویم جنګ په ۱۹۶۵ ز کال کې هغه مهال رامنځ ته شو چې پاکستاني ځواکونو غوښتل د هند تر کنټرول لاندې سیمې (ران کچه) باندې قبضه وکړي، چې د هندي ځواکونو له سخت غبرګون سره مخ شول او په دغه ۱۷ ورځنۍ جنګ کې د دواړو خواوو زرګونه ځواکونه ووژل شول او پاکستان بېرته په شاه شو. بل جنګ په ۱۹۷۱ ز کال کې هغه مهال وشو چې د پاکستان د هغه مهال ټاکنې د عوامي لیګ مشر شیخ مجیب الرحمن وګټلې، کوم چې د پاکستان د ختیځ بنګال اوسېدونکی و. خو د مغربي پاکستان سیاسیونو او نظامیانو ورسره ونه منلې او نوموړی یې زنداني کړ، چې په ترځ کې یې په بنګال کې خلک را پورته شول او د خپل حق غوښتنه یې وکړه. هغه خلک د پاکستاني پوځ له لوري سخت وځپل شول او لکونه بنګالیان د همدغه پوځ له لوري په بې رحمانه توګه تر تېغ تېر شول. د هند د هغه مهال لومړۍ وزیرې اندارګاندي تصمیم ونیو چې د بنګال خلک به له دې ستونزې او بربریته ژغوري. هغه وو چې هندي ځواکونو مداخله وکړه او پاکستاني ځواکونه یې له پښو وغورځول، چې په پایله کې یې ۹۵ زره پاکستاني پوځیان د جنرال نیازي په مشرۍ، هندي ځواکونو ته تسلیم شول او بیا د ملګرو ملتونو په مرسته پاکستان ته ستانه او په دې توګه بنګله‌دېش له هنده جدا خپلواک هېواد او شیخ مجیب الرحمن یې لومړی وزیر شو. د دغو دواړو متخاصمو هېوادونو بل او څلورم جنګ په ۱۹۹۹ ز کال کې د کارګیل په نامه رامنځ ته شو. دا جنګ هم د کشمیر پر سر و. کارګیل د هند تر ولکې لاندې کشمیر کې راځي، چې پاکستاني پوځ پرې هغه مهال برید وکړ او دا وخت د دواړو هېوادونو ترمنځ سیاسي اړیکې یوڅه مخ په ښه کېدو وې. د هند لومړي وزیر اټل بیهاري واجپای د ( امن اشاء) د سولې د یوه پروګرام له لارې په بس کې پاکستاني لاهور ته لاړ او هلته یې له لومړي وزیر نوازشریف سره وکتل او دواړو مشرانو هوکړه وکړه چې د کشمیر مسئله به د خبرو له لارې حل کوي. خو پاکستاني پوځ ته چې په واک او ځواک کې د پاتې کېدو لپاره یوازینۍ داعیه همدا د کشمیر مسئله بولي؛ دا کیسه ورته د پوځ په وړاندې دسیسه ښکاره شوه او فکر یې وکړ چې نوازشریف یې د قدرت د له منځه وړلو هڅه کوي او بل یو کال وړاندې (۱۹۹۸) پاکستان اټومي ازمېښت هم کړی و، نو پاکستاني پوځ همدا وخت د ځان لپاره مناسب وګاڼه او سلګونه ځواکونه یې د کارګیل غرونو ته ولېږل. هغه وو چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې یو ځل بیا خرابې شوې. تر هغه پاکستان پر هند برلاسی ښکارېده، څکه پاکستان د جهادیانو په واسطه لسګونه داسې بریدونه وکړل، چې هند یې ځواب نه شواې ورکولی. په ۱۹۹۹ ز کال کې یوه هندي الوتکه د کشمیري مجاهدینو له لوري یرغمل او کندهار ته یوړل شوه، چې په ترځ کې یې هغه درې مهم کشمیري مشران چې هندي حکومت په کشمیر کې د ترهګرۍ په تور نیولي وو، د مولانا مسعود اظهر په ګډون خوشې کړل.

وروسته بیا مولانا مسعود اظهر د جیش محمد په نامه ډله جوړه کړه او په هند کې یې لسګونه بریدونه وکړل. همداسې بیا په ۲۰۰۱ ز کال د هند پر پارلمان برید، په همدغه کال کې د جموکشمیر پر پارلمان برید، په ۲۰۰۸ ز کال کې پر ممبی ترهګریز برید چې څه کم دوه سوه کسان یې ووژل او په ۲۰۱٦ ز کال کې د هند پنجاب په پټهان کوټ او د کشمیر په اوړي سیمه کې بریدونه او اخري برید یې د پلوامه و. په دغو بریدونو کې لسګونو هندي نظامي او ملکي اوسېدونکو ته مرګ ژوبله واوښته. د پلوامه تر برید وروسته، چې د هند پکې ۴۴ نیمه پوځیان ووژل شول، هند خورا په غوسه شو. د دغه هېواد لومړي وزیر وویل، چې د دغه برید غچ به په پاکستان کې له مېشتو ترهګرو اخلي . هغه وو چې تېره شپه هندي جنګي الوتکو په پاکستان کې هغه ځایونه په نښه کړل، چې د دوی په خبره، کشمیري ترهګر پکې اوسي. دم ګړۍ د دواړو هېوادونو حالات ترینګلي ښکاري، پاکستاني چارواکي وایي چې دوی به ډېر ژر د دغه برید ځواب ورکړي. خو داسې نه ښکاري چې پاکستان به په ورته عمل لاس پورې کړي، څکه پاکستان اوس په هغه موقف او دریځ کې نه دی، چې پر هند دې ورته هوایي یا ځمکنی برید وکړي. پاکستان په ډېر بد اقتصادي حالت کې راګیر دی، له بلې خوا د ګاونډیو هېوادونو اړیکې ورسره تر اخري حده خرابې شوې دي. هند، افغانستان او ایران هغه هېوادونه دي، چې په دې وروستیو کې یې له پاکستان څخه سر ټکولی او همدارنګه په دغو هېوادونو کې د وروستیو بریدونو تور هم پر پاکستان پورې شوی دی. همدا راز د نړۍ ډېری هېوادونه هم دا فکر کوي، چې پاکستان د سیمې او نړۍ لپاره ترهګر روزي. نو په دې اساس به پاکستان ونه توانېږي، چې د هند خلاف په ډیپلوماټیکه او نظامي ساحه کې کوم اقدام وکړي.

دا ډول عملیات د حل لاره ده!؟

مخکې مو وویل چې دا ډول عملیات، چې هند تېره شپه وکړل؛ مخکې هم شوي دي. خو پوښتنه دا ده چې ایا تر هغې وروسته حالات سم شوي، پاکستان پرې اصلاح شوی، ترهګریز بریدونه کم شوي...؟ ځواب نه دی.

څکه په دا ډول عملیاتو کې هغه مهم کسان لکه مولانا مسعود اظهر، حافظ سعید، مولانا فضل الرحمن خلیل، صلاالدین، داوود ابراهیم او نور چې د کشمیر د جنګ اصلي چلوونکي دي، له منځه نه دي تللي. هغوی د پاکستان په تر ټولو مصئونو ځایونو کې کمپونه او ترنېنګ مرکزونه لري، چې د پاکستان له پوځ پرته یې ډېرو کمو خلکو ته معلومات شته. یعنې په اوږدمهال کې دا ډول عملیات پاکستان ته زیان نه شي اړولی، هو دومره ضرور کېدای شي چې دم ګړۍ پرې د هندوستان خشمېدلي اوسېدونکي ارامه او په راتلونکو ټاکنو کې د بي جي پي یا اوسني حاکم ټیم دریځ قوي او د خلکو رایه خپله کړي؛ خو پاکستان به بیا هم د تېر په څېر خپلو کړنو ته دوام ورکوي.

## د دوحې ناسته؛

# پر اوربند او بین الافغاني مذاکراتو په راتلونکو غونډو کې خبرې کیږي



په قطر کې د طالبانو او امریکا د مخامخ خبرو کاري ټیمونو پر مشخصه اجنډا کار پیل کړی دی. وسله والو طالبانو وړمه ورځ تر تعارفي غونډې وروسته پرون له امریکا سره رسمي او مخامخ مذاکرات پیل کړل.

دا د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو پنځم پړاو دی او دواړه لوري تمه لري چې مهمو پایلو ته سره ورسېږي. د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین تېره ورځ له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې د قطر ناسته ورته پوره اهمیت لري او دوی په پوره ښتینولۍ غواړي د سولې خبرې مخ ته یوسي.

د غونډې له پیل سره سم د دواړو لورو کاري ټیمونو له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او همدا راز له افغان خاورې امریکا او نورو هېوادونو ته پر ضرر نه رسېدو خبرې کړې دي. دوی پر یادو مسایلو بحثونه کوي او هڅه یې دا ده، چې پر همدغو دوو موضوعاتو توافق ته ورسېږي او په دې برخه کې مسوده جوړه کړي. سهیل شاهین هم په خپلو خبرو کې ویلي، چې کاري ډلې به د دواړو لورو د توافق لپاره د مسودې پر جوړولو کار کوي.

تر دې مخکې ویل شوي وو، چې د مذاکراتو په دغه پړاو کې به د طالبانو او امریکا ترمنځ پر اوربند او له افغان حکومت سره پر مخامخ خبرو هوکړه کېږي، خو اوس طالبان وایي چې دوی یوازې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او همدا راز له افغان خاورې کوم هېواد ته پر ضرر نه رسېدلو بحثونه کوي.

بل پلو طالب وسله والو ته نږدې سرچینو رسنیو ته ویلي، چې که پر یادو دوو مسایلو امریکا له طالبانو سره هوکړه ونه کړي، نو ښایي پر هېڅ شي هم هوکړه رامنځ ته نه شي. د سرچینو په خبره، د بین‌الافغاني مذاکراتو د پیل او همدا راز اوربند لپاره د طالبانو تر ټولو ستر شرط دا دی، چې لومړی دې امریکایي ځواکونه له طالبانو سره له افغانستانه د ځواکونو پر وتلو سلا وکړي. په همدې موخه ټاکل شوې چې په راتلونکې میلادي میاشتې یا مارچ کې هم د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې وشي. که په اوسنیو خبرو کې پرمختګ وشي، نو د مارچ په مذاکراتو کې به پر بین الافغاني مذاکراتو او اوربند بحثونه کېږي.

پخواني طالب چارواکي سیداکبر اغا هم ویلي چې که امریکا له طالبانو سره د ټولو بهرنیو ځواکونو د وتلو پر سر هوکړې ته ونه رسېږي، نو دغه ډله د اوربند او بین الافغاني مذاکراتو په اړه خبرې نه کوي. د ده په خبره، د بهرنیو ځواکونو وتل د سولې د ټولو پرمختګونو لپاره لومړیتوب لري.

بل پلو د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر ځانګړي استازي ضمیر کابلوف بیا ویلي، چې طالبان او امریکا په خپلو کې ځینو هوکړو ته سره رسېدلي دي. نوموړي د روسیې له ۲۴ ټلوېزیون سره په مرکه کې ویلي، امریکا او طالبان ځینو مهمو هوکړو ته رسېدلي دي، خو ښه به دا وي چې د دغو دواړو لورو خوښه پر افغانانو تحمیل نه شي. هغه زیاته کړې، روسیه او امریکا باید له هغو خبرو ملاتړ وکړي، چې مشري او مالکیت یې د افغانانو په لاس کې وي.

کابلوف دا هم ویلي چې که طالبان له امریکا سره هوکړې ته ورسېږي، نو پر دغه ډله به نړیوال بندیزونه پر خپل ځای وي، خو که افغان حکومت وغواړي، نو د ملګرو ملتونو امنیت شورا پر دغه ډله شته بندیزونه راکمولی شي او یا لږ تر لږه طالب استازو ته د سفرونو په برخه کې اسانتیا برابرولی شي.

د طالبانو او امریکا ترمنځ د مخامخ مذاکراتو په اړه تر دې دمه لا ډېر جزیات نه دي ورکړل شوي، خو وسله وال طالبان وایي چې دغه مذاکرات به تر دریو ورځو پورې دوام وکړي.

# هند: د پاکستان په خاوره کې مو د جیش محمد ډلې مرکزونه له منځه وړي دي

هند منلې چې د پاکستان په خاوره کې یې د جیش محمد ډلې پر مرکزونو بمباري کړې او د دې ډلې ډېر غړي او تاسیسات یې له منځه وړي دي.

د هند د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ویجې ګوکلې تېره ورځ په نوي ډېلي کې یوې خبري ناستې ته ویلي، چې هېواد یې په مکرر ډول له پاکستانه غوښتي وو، چې د جیش محمد ډلې پر وړاندې اقدام وکړي او د دغه هېواد د خاورې دننه د دې ډلې د سخت دریځو د روزنې او پر وسلو سمبالېدو مخه ونیسي، خو پاکستان په خپله خاوره کې د دې تروریستي ډلې د مرکزونو د له منځه وړلو لپاره هېڅ پرېکنده اقدام نه دی کړی.

د هغه په خبره، د کره استخباراتي معلوماتو له مخې چې موږ ته رسېدلي، جیش محمد ډلې د هند په بېلابېلو برخو کې د نورو تروریستي بریدونو پلان درلود او دغه نږدې خطر ته په پام سره، د دغه ګواښ د دفع کولو لپاره برید حتمي و.

نوموړي ویلي: «هند نن سهار په لومړیو ساعتونو کې د استخباراتو په مشرۍ، دغو عملیاتو کې په بالاکوټ کې د جیش محمد ډلې د روزنې پر لوی مرکز برید وکړ. په دغو عملیاتو کې د جیش محمد ډلې زیات شمېر تروریستان، د هغوی روزونکي، جګپوړي قوماندانان او د جهادیانو د ډلې چې د ځانمرګو بریدونو لپاره روزل کېدل، له منځه یوړل شول.»

دا په داسې حال کې ده چې پاکستان د هند د بهرنیو چارو د مرستیال وزیر له دې ځرګندونو مخکې، پر هند تور ولګاوه چې پوځي الوتکې یې د کشمیر په لانجمنه سیمه کې د پاکستان هوایي قلمرو ته ننوتې دي.

د پاکستان د پوځ ویاند تورن جنرال اصف غفور پر ټوېټر په یوه پیغام کې لیکلي، چې هندۍ الوتکې د کشمیر بالاکوټ سیمې ته نږدې د کنټرول له کرښې اوښتې، خو د هغه په خبره چې د پاکستان هوایي ځواکونو د هندي الوتکو پر وړاندې غبرګون ښودلی دی.

غفور ویلي، هندي الوتکو ځو بمونه غورځولي او بیا په بېړه تښتېدلې دي. د نوموړي په خبره، په دغو بمباریو کې چاته زیان نه دی رسېدلی.

بلخوا د پاکستان په خاوره کې د تروریستانو پر مرکزونو د هند د دغه برید په اړه هندي سیاسیونو، بېلابېل غبرګونونه ښودلي دي.

د هند مخکښ سیاستوال راول ګاندي چې د سیاسي کانګرېس ګوند مشر دی، په ټوېټر کې د مبارکۍ یو پیغام ورکړی او ویلي یې دي چې دی د هندي پیلوټانو مېړانه ستایي.

دا له ۱۹۷۱ ز کال راهیسې لومړی ځل دی چې هند د پاکستان په خاوره کې د ترهګرو مرکز په نښه کوي او د دې وېره شته چې ورسره به د دواړو ګاونډیو او اټومي وسلې لرونکو هېوادونو کړکېچ لاپسې زیات شي.

د پاکستان او هند په اړیکو کې کړکېچ وروسته له هغې زیات شو، چې نږدې دوې اونۍ مخکې په هندي کشمیر کې د هند د دولتي ملېشه ځواکونو له ۴۰ زیات سرتېري په ځانمرګي برید کې ووژل شول.

جیش محمد ډلې چې مرکزونه یې په پاکستان کې دي، د دغه برید مسوولیت منلی دی.

## د کتــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### پنځم څپرکی
### څنگه نوی فکر وکړو؟



د سړي خبرو حیران کړم، ځکه هغه چې څه ویل، عیناً همافه زما خبرې وې. دوه درې ورځې وروسته مې د دوه هکتاره ځمکې اخیستو په اړه له ملگرو نظر او مشوره وغوښته، هر یو به مې چې پوښت، ویل به یې: (اخیستل یې ډېر بد نه دي.)
ما تل پر همدې فکر کاوه او داسې لارې چارې مې لټولې چې دا فکر په پیسو بدل کړم. یوه ورځ کار ته روان وم چې ذهن ته مې یوه مفکوره راغله، ما وې راځه یوه ټوټه ځمکه به واخلم او بیا به یې ووېشم. پراخه ځمکه چې واخیستل شي او په وړو وړو ټوټو ووېشل شي، نو ارزښت یې لوړېږي.
له ښاره دوه ویشت میله لرې مې، شل هکتاره ځمکه په اته نیم زره ډالره واخیسته، خبره مې ورسره غوټه کړه، درېیمه برخه پیسې مې بیعانه ورکړې او د نورو مې ورسره نېټه وټاکله. وروسته مې د ځمکې پر څنډو او پولو د کاج ونې وکرلې، دا کار مې د ځمکو د یوه سوداگر په خوله کړی و چې راته ویلي یې وو: (خلک نن سبا په ونو ډېر مئین دي، چې ونې ډېرې وي.)
ما ویل زما د ځمکې پېرودونکي باید په دې پوه شي چې څو کاله وروسته به یې ځمکې د کاج په ښایسته ډېرو ونو سینگار وي.
بیا مې یو مهندس (انجنیر) پیدا کړ چې ځمکه راته نقشه کړي او په لسو دوه هکتاري نومرو یې ووېشي. دا کار چې وشو، نو ځمکې خرڅلاو ته جوړې شوې. په ښار کې مې د یو څو ځوانو مدیرانو پوستي پتې پیدا کړې، یوه کوچنۍ پوستي سیالي مې جوړه کړه. ورته ومې ویل، چې په درې زره ډالره په ښار کې یوه وړه ټوټه ځمکه کېږي، خو دلته پرې تاسې دوه هکتاره ښایسته جایداد خپلولای شئ، د دې ترڅنگ مې ورته دلته د ژوند اسانتیاوې هم تشریح کړې.
شپږ اونۍ تېرې شوې، شپږ اونۍ څه چې د شپږو اونیو مازدیگرې، ماښامي او رخصتۍ تېرې شوې او ما پکې خپلې لس واړه نومرې وپلورلې. ټول عاید مې دېرش زره ډالره شو. د ځمکې، تبلیغاتو، نقشې، ونو او قانوني چارو ټول لگښت لس زره او څلور سوه ډالره راغلی و او ما په دې سودا کې نولس زره او شپږ سوه ډالر سوچه گټه وکړه.
د دې گټې لامل دا و چې زه د هوښیارو خلکو له فکر سره مخ شوم. زه ډوډۍ ته دعوت شوم، راغلي خلک زما هم کسبه نه وو، خو که ما دا بلنه رد کړې وی، نو ذهن ته به مې د پیسو گټلو داسې مفکوره هېڅکله نه وی راغلې.)
نو د ذهني تحرکاتو او انگېزو د پیدا کولو لارې چارې ډېرې دي، خو دلته درسره داسې دوه لارې شریکوو چې تاسې یې د خپل ژوند په پلان کې ځایولای شئ:
۱) لږ تر لږه له یوې داسې کاري ډلې سره منظمې اړیکې ساتئ، چې ستاسې په کاري مسائلو اغېز کولای شي. له هوښیارو خلکو سره ناسته پاسته او خبرې اترې کوئ. زیاتره خلک وایي چې: (نن مې فلانۍ ناسته کې جالبه خبره واورېده)، یا (مې پرونۍ ناسته کې ذهن ته راغلل چې...). دا یاد ساتئ، کوم ذهن چې یوازې له خپل دننني قوته تغذیه کېږي، زر یا لږ وروسته به یې د تغذیې دغه سرچینه ختمه شي او د نویو او پرمختللیو مفکورو په زېږولو کې به پاتې راشي. د نورو خلکو په ذهنونو کې شته مفکورې، تر ټولو ښه ذهني خواړه دي.
۲) لږ تر لږه له یوې داسې ډلې سره اړیکې او ناسته پاسته وساتئ، چې ستاسې د کاري لېوالتیاوو له حوزې بهر فعالیت کوي. د بېلابېلو کاري لېوالتیاوو لرونکو خلکو سره ناسته پاسته ستاسې ذهن او د سترگو وړاندې نړۍ پراخوي. که په دې پوه شئ چې ستاسې له کاري ساحې بهر خلک، ستاسې د خپلو کاري مسائلو په اړه ستاسې فکر ته څومره حرکت ورکوي، نو حیران به شئ.
مفکورې او نظریات فکري مېوې دي، خو باید راټولې او د ارزښت معلومولو لپاره وکارول شي.
میوه دارې ونې په دې ارزي چې انسان ورته باغ جوړ کړي، خو تاسې وگورئ چې ټول کرلي بوټي نه را شنه کېږي، په هره برخه کې یوازې یو څو بوټي لويې لويې ونې شي، نورې یې زیاتره وچې یا خرابې شي، ځکه یا ځمکه سخته وي یا یې چینجي ووهي او همدا شیان یوازې څو بوټي ونې کېدو ته پرېږدي.
فکرونه هم همداسې در واخلئ. ځیني یې مېوې او ثمر ته رسېږي. مفکورې ډېرې نازکې دي، که پام پرې و نه شي او و نه ساتل شي، نو د خلکو د منفي فکرۍ چینجي یې وچوي. مفکورې له پیدا کېدو او بیا تر عملي کېدو پورې، په ټوله لاره قوي ساتنې او پاملرنې ته اړتیا لري. نو د خپلو مفکور د غوړولو او گټورولو لپاره دا درې کاره وکړئ:
۱) مفکورې مه ضایع کوئ. په کاغذ یې ولیکئ. هره ورځ بې شمېره ښې مفکورې رامنځته کېږي، خو دا چې په کاغذ نه لیکل کېږي، نو ببرته ضایع کېږي. که حافظه یوازې نوي فکرونه وساتي او تغذیه یې کړئ، نو بې لاس و پښو وینځه به ترې جوړه شي. له ځان سره تل د یادابنت کتابچه یا کارتونه ساتئ. څنگه چې مفکوره ذهن ته درغله، سمدستي یې ولیکئ. زما یو ملگری ډېر سفرونه کوي، د یادابنت کتابچه یې تل څنگ ته د دې لپاره پرته وي چې څنگه نوی فکر راشي، دستي یې لیکي. د نوښتگر او مثمر ذهن لرونکي خلک په دې پوهېږي چې مفکوره ورته هر وخت او هر ځای کې پیدا کېدای شي، نو مفکورې مه شړئ، مه یې ورکوئ او مه یې ضایع کوئ، گني د فکر میوې به مو ضایع شي، له دې میوو ښایسته شپول راچاپېره کړئ.
**دوام لري...**

# مشري؛ د کاروباري چارو مدیریت

اکسوس کتابپلورنځی

(مشري؛ د کاروباري چارو مدیریت) کتاب تازه پښتو ژبې ته ژباړل شوی دی. د کتاب لیکوال مشهور امریکایی جان مکسوېل دی. مکسوېل د مدیریت او رهبرۍ برخې متخصص کس پېژندل شوی، چې په دې برخه کې یې له دېرشو زیات کتابونه لیکلي دي. مکسوېل نه یوازې دا چې په دې برخه کې کتابونه لیکي، بلکې علمي سیمینارونه، ورکشاپونه او په دې سربېره نیویارک ټایمز او وال سټرېټ ژورنال او په نړیواله کچه نورو مشهورو ورځپاڼو ته هم لیکنې کوي. مکسوېل په ۲۰۱۴ ز کال کې د INC مجلې له خوا په نړۍ کې د مدیریت او رهبرۍ برخې د متخصص په توگه پېژندل شوی دی.
د کتاب پښتو ژباړه نعمت الله عزیزي کړې، چې همدا پښتو بڼه یې د اوو څپرکو په درلودو سره په ۱۰۳ مخونو کې راخلاصه شوې ده.
د دغه کتاب اصلي موضوع د ډله ییز کار پر ارزښت او اهمیت او دا چې ډله ییز کار د انفرادي هغه په پرتله څومره گټور او اغېزمن دی؛ راڅرخي.
د دغه کتاب ارزښت زموږ په ټولنه کې تر هربل ځکه زیات دی، چې دلته په ډېرو علمي او اکاډمیکو مرکزونو کې، ډېر کسان له ډله ییز کار څخه تېښته کوي او فکر کوي چې په داسې طریقې سره کار کول له ستونزو سره ځان مخ کول دي.
د ډله ییز کار په اړه دا سې فکر کول، د دغه کار د پایلو په اړه د معلوماتو نه لرلو او یا هم په ځینو برخو کې د نسبي ترخو تجربو په پایله کې رامنځته کېږي. خو تر کومه چې ستونزو ته په ډله ییز ډول د حل لارې او د کار د غوره ترسره کېدو لپاره لارې چارې موندل کېدای شي، هېڅکله په یوازیتوب او په انفرادي ډول نه شي پیداکېدای.
خدای پاک انسان ټولنیز پیداکړی او فطرتاً ټولنیز ژوند خوښوي، ځکه په یوازې ځان نه شي کولای چې د ژوند ټولې اړتیاوې پوره کړي. په همدې اړه د دغه کتاب په یوه برخه کې راغلي:
«هېڅوک نه شي کولای چې د یوې ډلې د ټولو غړو کارونه ترسره کړي... موږ ټول یو بل ته اړتیا لرو، تاسې بل چا ته او بل څوک تاسې ته اړتیا لري...»
په دغه کتاب کې خلک ډله ییز کار ته هڅول شوي او د بېلابېلو بېلگو، تجربو او ویناوو په راوړلو سره، هڅه شوې چې لوستونکي د فردي کار په پرتله، د ډله ییز کار او په ټولنه کې د مثبت رول لوبولو پر ارزښت وپوهوي.
په ټوله کې مو کتاب له یوازېتوب او په یوازې ځان د کارونو له سرته رسولو راگرځوي، د ډله ییز کار او د هغه د اغېزمنو او په کم وخت کې یې د پایلو په لاسته راوړلو سره ستاسې پوهاوی زیاتوي.
مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او په ښار کې له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قېمت ترلاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Essential Words for the Toefl 7th | Barorns | ۱۷۰ؚ |
| ۲ | Words you need to Know 1100 7th | | ۱۸۰ؚ |
| ۳ | words you need to knoww 7tH 1100 | | ۳۵۰ؚ |
| ٤ | BARRONS TOEFL IBT 15th Edtion | | ۵۵۰ؚ |
| ۵ | راهنمای واژگان ضروری تافل ویرایش هفتم | رضا دانشوری | ۲۰۰ؚ |
| ٦ | The Pilgrimage | PAULO COELHO | ۸۰ؚ |
| ۷ | The Zahir | | ۱٤۰ؚ |
| ۸ | The Alchemist | | ۱۲۰ؚ |
| ۹ | Like the Flowing River | | ۸۰ؚ |
| ۱۰ | The supreme Gift | | ۱۲۰ؚ |
| ۱۱ | Adultery | | ۱۷۰ؚ |
| ۱۲ | Hippie | | ۱۷۰ؚ |
| ۱۳ | Essentional Grammar In Use 4th | Raymond Murphy | ۱۷۰ؚ |
| ۱٤ | Modern Grammar گرامر نوین | ابو القاسم طلوع | ۲۲۰ؚ |
| ۱۵ | AND THE MOVNTAINS ECHOED | Khaled Hosseini | ۲۰۰ؚ |
| ۱٦ | A THOUSAND SPLENDID SUNS | | ۲۵۰ؚ |
| ۱۷ | THE KITE RVNNER | | ۲۵۰ؚ |
| ۱۸ | LETS GO 5Edition 1 SB+WB+CD | oxford | ۱۵۰ؚ |
| ۱۹ | LETS GO 5Edition 2 SB+WB+CD | | ۱۵۰ؚ |
| ۲۰ | LETS GO 5Edition 3 SB+WB+CD | | ۱۵۰ؚ |
| ۲۱ | LETS GO 5Edition 4 SB+WB+CD | | ۱۵۰ؚ |
| ۲۲ | The Practical Writer with Readings | Edward p. Bailey-Philip A. Powell | ۲۷۰ؚ |
| ۲۳ | English Grammar in Use fouth Edition | Raymond murphy | ۲۰۰ؚ |
| ۲٤ | Essentional Grammar In Use 4th | | ۱۷۰ؚ |
| ۲۵ | Basic grammar in use 4th Edtion | | ۱۵۰ؚ |
| ۲٦ | Key Words for Fluency pre-intermediate | George woolard | ۱۲۰ؚ |
| ۲۷ | Key Words For Fluency Intermediate | | ۱۵۰ؚ |
| ۲۸ | Key Words For Fluency Upper Inter | | ۱٤۰ؚ |
| ۲۹ | Living with Honour | Shiv Khera | ۱۵۰ؚ |
| ۳۰ | مشري؛ د کاروباري چارو مدیریت | میراحمد یاد | ۱۰۰ؚ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٤,٥٥ |
| € | ۸٤,۷۰ |
| Rp. | ٥٣٤ |
| ₹ | ۱۰٥٥ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹٦,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - دوبۍ | 21:00 |
| کابل - انقره | 19:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

## چارواکي: په غزني کې په هوايي بريد کې اته سيمه ييز پوليس وژل شوي دي



د غزني سيمه ييزو چارواکو ويلي، ورمه شپه د دغه ولايت په جاغوري ولسوالۍ کې د هوايي بريد په پايله کې اته سيمه ييز پوليس وژل شوي دي.

د غزني د والي وياند محمدعارف نوري ويلي، چې ورمه شپه د دغه ولايت د جاغوري ولسوالۍ د حوت قول په سيمه کې په هوايي بريد کې په تېروتنې سره د سيمه ييزو پوليسو پوستې په نښه شوې، چې له امله يې اته سيمه ييز پوليس وژل شوي او څلور نور ټپيان شوي دي.

نوري ويلي، تراوسه څرگنده نه ده چې دغه هوايي بريد افغان ځواکونو کړی او که د نړيوالو ځواکونو له خوا شوی دی.

بلخوا د غزني د ولايتي شورا رييس نصير احمد فقيري هم امريکا غږ ته ويلي، چې دا بريد د سيمه ييزو پوليسو پر پوستو، چې د ملي امنيت رياست له خوا يې ملاتړ کېږي، شوی دی.

طالبانو هم په يوه اعلاميه کې ويلي، چې په دغه بريد کې د افغان امنيتي ځواکونو درې پوستې ويجاړې شوې دي.

بلخوا د غزني ولايت د گيلان ولسوالۍ اوسېدونکو ويلي، ورمه شپه په دغه ولسوالۍ کې پر روغتيايي کلينيک په هوايي بريد کې، يو ډاکټر وژل شوی دی.

د دې ولسوالۍ اوسېدونکي عبدالولي اخوندزاده امريکا غږ ته ويلي، چې په دغه بريد کې د کلينيک ودانۍ ته هم زيان رسېدلی دی، خو د والي وياند د گيلان په ولسوالۍ کې پر کلينيک باندې د بريد په اړه بې خبري ښودلې ده.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کلونو کې په افغانستان کې د ښکېلو خواوو له لوري پر روغتيايي کلينيکونو باندې بريدونه زيات شوي دي.د افغانستان لپاره د روغتيا د نړيوالې اداري يا (WHO) د يو راپور له مخې، په تېر ۲۰۱۸ ز کال کې د افغانستان په ۲۱ ولايتونو کې پر روغتيايي کارکوونکو او روغتيايي مرکزونو ۸٦ وسله وال بريدونه شوي دي.

## مېک: پراخ اداري فساد د کورنيو چارو وزارت چارې زيانمنې کړې دي



د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې د خپلواکې گډې کمېټې يا مېک تازه موندنې ښيي، چې اداري فساد د کورنيو چارو وزارت د تداركاتو پروسه او ډېرې نورې چارې زيانمنې کړې دي.

کمزورې همغږي، د داوطلبۍ په پروسه کې د روڼتيا نشتون، په پرېکړو کې بهرنۍ مداخلې، د افغان ملي پوليسو د گومارنې په پروسه کې د ډېرو خلکو ښکېلتيا او د منل شويو معيارونو نه موجوديت، د پوليسو د پرسونل د دوسيو نشتون يا ورکېدل او د تقاعد په پروسه کې د مقرراتو په پام کې نه نيول، په کورنيو چارو وزارت کې هغه ستونزې دي چې په دغه راپور کې ورته اشاره شوې ده.

د دې کمېټې مشر باري سلام تېره ورځ د يوې خبري ناستې پرمهال ويلي، د ارزونې په پروسه کې اړينه بلل شوې چې د ياد وزارت اوسنۍ پاليسي او کړنلارې و ارزول شي.

نوموړي ويلي، دوی داسې موارد هم پيدا کړي چې د وزارت په چارو کې لاسوهنې او ناوړه گټه اخيستنې شوې دي.

هغه زياته کړې: «زموږ موندنې ښيي چې لاسوهنې او سوء استفادې شوې دي، خو دا چې زموږ ټينگار په سيستم دی، نو نه شو کولای چې د اشخاصو نومونه واخلو، خو له شک پرته سوء استفادې موجودې دي.»

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د امريکا دفاع وزارت يا پنټاگون هم په خپل راپور کې د افغانستان د کورنيو چارو او دفاع وزارتونه، پر فساد تورن کړي دي.

دغه شان د افغانستان د بيارغونې په برخه کې د امريکا د سر مفتش اداري يا سيگار ويلي، چې د افغانستان د کورنيو چارو او دفاع وزارتونو له لوري د کمزورې څارنې او ارزونې له امله، سلگونه ميليونه ډالر چې د ملي اردو او پوليسو د روزنې لپاره ځانگړي شوي وو، نتيجه يې نه ده ورکړې.

## عامې روغتيا وزارت: په روغتيايي سکتور کې د پام وړ بدلونونه راغلي دي



عامې روغتيا وزارت وايي، د روغتيا په برخه کې يوه ملي سروې ښيي چې په دغه سکتور کې د پام وړ بدلونونه راغلي، خو ځينې ستونزې هم منې.

تر پنځه کلنۍ د ښکته عمر د ماشومانو په مړينه کې ۸۰ سلنه کموالی، د روغتيايي مرکزونو د شمېر ډېروالی، له پنځه کلنۍ ښکته په ۳٦،٦ سلنه ماشومانو کې د خوارځواکۍ کمښت او په هېواد کې د ښځينه قابلو زياتوالی د روغتيا په برخه کې د دې سروې مهمې موندنې دي.

د عامې روغتيا وزير فيروزالدين فيروز تېره ورځ د دې سروې د نتايجو د اعلان پر مهال ويلي، چې دغه سروې د روغتيايي وضعيت د څېړلو په موخه د کيت په نوم موسسې او د احصايې ملي ادارې تر نظر لاندې په تېرو شپږو مياشتو کې په ۳۴ ولايتونو کې ترسره شوې ده.

هغه زياته کړې: «په ځينو برخو کې د پام وړ بدلونونه راغلي، خو يوشمېر ستونزې هم موجودې دي، دغه سروې په بې پرې ډول ترسره شوې او ټول اړخونه پکې څېړل شوي. د بېلگې په توگه، له پنځه کلنۍ په ښکته عمر ماشومانو کې د مړينې کچه کمه شوې، يعنې ۲۰۰۳ ميلادي کال کې هرو زرو ماشومانو کې ۲۵۷ ماشومان مړه کېدل، خو اوس په هرو زرو ماشومانو کې ۴۹ ماشومان دي چې ۸۰ سلنه کموالی ښيي او دا د روغتيا وزارت لپاره لويه بريا ده.»

په روغتيايي مرکزونو کې د ولادتونو ۵۷ سلنه زياتوالی، له دولتي روغتونونو د ٦۸ سلنه خلکو گټه اخيستل، له دريو زرو د ډېرو روغتيايي مرکزونو زياتوالی، له هغو پرمختگونو دي چې په دې سروې کې ترې يادونه شوې ده.

عامې روغتيا وزارت ويلي، د کورنۍ د تنظيم له کړنلارې گټه نه اخيستل او پرله پسې زېږون له هغو ستونزو دي چې په دې سروې کې ورته اشاره شوې ده.

د فيروز په خبره، که چېرې پرله پسې د زېږون مسئله جدي ونه نيول شي، تر ۲۰۳۰ او ۲۰۴۰ ز کلونو پورې به د افغانستان نفوس دوه برابره شي.

دا په داسې حال کې ده چې لاهم د هېواد په لرې پرتو سيمو کې خلک روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی نه لري او حتی ډېری افغانان د درملنې لپاره بهرنيو هېوادونو ته سفر کوي.

## حامد کرزی: د سولې په خبرو کې د ملابرادر گډون اغېزمن دی



پخواني ولسمشر حامد کرزي په قطر کې د افغان سولې په نوي پړاو خبرو کې د ملا برادر گډون اغېزمن او نېک کار بللی دی.

د حامد کرزي له دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، کرزی هيله مند دی چې په هېواد کې روان کړکېچ ژر تر ژره د بين الافغاني مذاکراتو او تفاهم له لارې حل شي، څو په افغانستان کې سراسري او تلپاتې سوله رامنځته شي او بالاخره دې ته زمينه برابره شي چې افغانان خپل هېواد پر خپلو متو جوړ او ودان کړي.

کرزي زياته کړې چې په قطر کې د سولې په تړاو خبرو کې د ملا برادر گډون چې د طالبانو له لومړنيو مشرانو دی، گټور کار دی. دا په داسې حال کې ده چې د طالبانو وياند ذبيح‌الله مجاهد ورمه ورځ ويلي وو، چې د طالبانو سياسي مرستيال ملا عبدالغني برادر چې د قطر دفتر د رييس په توگه هم ټاکل شوی، د يکشنبې په ماښام دوحې ته رسېدلی دی.

مجاهد زياته کړې چې د يادې ناستې په اجنډا کې له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو وتل او له دغه هېواده نورو هېوادونو ته د گواښ نه متوجه کېدل اساسي موضوعات دي. خو ځينو سرچينو ويلي چې د خبرو په دغه پړاو کې د اوربند او له افغان حکومت سره د سولې د مخامخ خبرو لپاره پر زمينې برابرولو هم بحث کېږي.

د يادونې ده چې تېره مياشت په قطر کې د طالبانو او امريکا ترمنځ له شپږ ورځنيو خبرو وروسته، دواړو لورو په يوه خپره شوې خبرپاڼه کې د پنځم پړاو ناستې نېټه د کب ٦مه (د فبرورۍ ۲۵مه) ټاکلې وه.

## سرور دانش: سولې پروسه کې د اختلافي موضوعاتو حل به وخت ونيسي



د ولسمشر دويم مرستيال سرور دانش ويلي، سولې ته د رسېدو پر وړاندې اساسي ستونزې اختلافي موضوعات دي چې حل يې ډېر وخت ته اړتيا لري.

د نوموړي له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې نوموړي دا خبرې په کابل کې د هالنډ له سفير سره په ليدنه کې کړې دي. سرچينه کاږي چې په دې ليدنه کې دواړو لوريو د سولې پر رواني پروسې او راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو خبرې اترې کړې دي.

د سرچينې په خبره، دانش په دې وروستيو کې سولې ته د رسېدو په برخه کې د پيل شويو هڅو هرکلی کړی دی او ويلي يې دي چې سوله يوه پېچلې مسئله ده، خو دی هيله لري چې دا پروسه به يوې مثبتې پايلې ته ورسېږي.

نوموړي زياته کړې چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو پيل او د اختلافي موضوعاتو موجوديت، هغه څه دي چې دا پروسه ښايي يوڅه وغځوي.

د يادونې ده چې په دې ليدنه کې د هالنډ سفير د افغانانو په مشرۍ د سولې له پروسې هرکلی کړی دی او زياته کړې يې ده چې هالنډ به په دې برخه کې له افغان حکومت سره خپلو همکاريو ته دوام ورکړي.

دانش دغه څرگندونې په داسې حال کې کوي، چې تېره ورځ د افغان سولې پر سر په قطر کې امريکايي او طالب استازي د پنځم ځل لپاره سره کېناستل، خو د دې ناستې جزيات تر اوسه نه دي په ډاگه شوي.

مسير ورځپانه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**ايډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** محمد نظيم سمون، جاويد کوټوال
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**گرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




چهارشنبه د ۱۳۹۷ د کب اتمه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۲۷مه | دویم کال | ۳٤۲مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | ۱٦ | ۱٦ | ۱٦ | ۱۸ | ۱۳ |
| -۹ | ۷ | ۳ | ٤ | ۳ | -۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۳ | لمر ختل ۰٦:۲۷ | ماسپښین ۱۲:۰۷ | مازیگر ۰۳:۲۰ | ماښام ۰۵:٤۷ | ماخوستن ۰۷:۱۱

## نړۍ




## پېنس: د وینزویلا خلک به ډېر ژر نوې ازادي تجربه کړي



امریکا د وینزویلا د ولسمشر نېکولاس مادورو پر متحدینو د نورو بندیزونو او دغه راز په هغه هېواد کې د اپوزیسیون له مشر خوان گوایدو سره د نورو همکاریو اعلان کړی دی.
د امریکا مرستیال ولسمشر مایک پېنس د وینزویلا په اړه په یوه بېړنۍ غونډه کې د گډون په موخه، د کولمبیا پلازمېنې بوگوتا ته تللی او هلته یې د وینزویلا د اپوزیسیون له مشر خوان گوایدو سره لیدلي دي.
پېنس د لیما په نوم ډلې ته د وینا پر مهال له خپلو سیمه ییزو متحدینو وغوښتل، چې د وینزویلا د تېلو په برخه کې پانگونې کنگل او عواید یې خوان گوایدو ته انتقال کړي.
دا په داسې حال کې ده چې د وینزویلا د تېلو زېرمې تر ډېره د ولسمشر نېکولاس مادورو په کنټرول کې دي.
پېنس دغه راز له دغو هېوادونو وغوښتل چې د ولسمشر مادورو کسانو ته د وېزې په ورکولو بندیز ولگوي.
هغه دغه راز وویل چې متحده ایالتونه به د وینزویلا د څلورو سرحدي ولایتونو پر والیانو چې د بشري مرستو د رسېدو خنډ شوي، بندیزونه ولگوي.
نوموړي د ولسمشر ټرمپ هغه خبرداری تکرار کړی چې ویلي یې دي، ټول انتخابونه پر مېز دي.
پېنس ویلي، ډېر ژر به هغه ورځې را ورسېږي چې د وینزویلا د خلکو بد خوبونه ختم شي او هغوی نوې ازادي تجربه کړي.

## منتقدان: جرگه مشورتی صلح صلاحیت ندارد و هدف آن تمدید قدرت است




همزمان با آماده‌گی‌های حکومت برای برگزاری لویه جرگه مشورتی صلح، دیدگاه‌ها در باره این جرگه همسان نیستند، و برخی از سیاسیون به این جرگه با دیده شک می‌نگرند.
گلبدین حکمتیار، رهبر حزب اسلامی می گوید که تضمینی برای از پیش تعیین نشدن آجندای این جرگه و نیز انتصاب نشدن اعضای آن وجود ندارد.
آقای حکمتیار می گوید، جرگه مشورتی نه تنها هیچ مشکلی را حل نخواهد کرد، بل بر مشکلات کنونی خواهد افزود.
حکمتیار گفت: «این جرگه باید صلاحیت تصمیم را داشته باشد، یک لویه جرگه مشورتی نباشد، جرگه مشورتی هیچ مشکل کشور مان را حل نخواهد کرد بل بر مشکلات کشور خواهد افزود».
در همین حال عطامحمد نور، رئیس اجرایی جمعیت اسلامی می گوید که آجندا و هدف‌های این جرگه از پیش تعیین شده‌اند و این جرگه را رد می کند.
آقای نور می‌گوید که هدف جرگه مشورتی تداوم قدرت است و وی در آن شرکت نخواهد کرد.
نور گفت: «جرگه‌یی که سناریوی آن از قبل مهندسی شده باشد و ساخته‌گی باشد و برای تمدید قدرت باشد، نه تنها که شرکت نمی‌کنیم بل آن را رد خواهیم کرد».
اما حکومت اطمینان می‌دهد که از جرگه مشورتی صلح، بهره‌برداری سیاسی و انتخاباتی نخواهد شد.
محمد عمر داودزی، رئیس دارالانشا شورای عالی صلح، هدف جرگه مشورتی صلح را تنها صلح می‌داند و همه‌گان را برای شرکت در این جرگه فراخواند.
داودزی گفت: «همه‌گی باشد، شامل باشند. اگر اختلافات سیاسی دارند و اگر رقابت‌های سیاسی دارند آن در جایش، ولی شمولیت در این جرگه ضروری است».
بیش‌تر از دو هزار تن از سراسر کشور برای شرکت در جرگه مشورتی صلح فرا خوانده خواهند شد، شورای عالی صلح می گوید که روند گزینش اعضای لویه جرگه نیمه انتخابی خواهد بود.




## ژوند

## پر ماشومانو د جنگي لوبو بدې اغېزې



څېړنو ثابته کړې چې کمپیوټري او یا هم په ځیرکو موبایلونو کې ځینې لوبې د ماشومانو پر رواني حالت منفي اغېز کوي. د ارواپوهنې متخصصین وایي، هغه ماشومان چې د کمپیوټر او یا هم ځیرک موبایل په وسیله جنگي لوبې کوي، له رواني پلوه یې راتلونکې له جدي گواښ سره مخ کېدای شي. په داسې لوبو کې په مجازي ډول وسلې کارول کېږي، خلک وژل کېږي، وینې بهول کېږي او چاودنې کېږي چې دا هر څه د تنکي ماشوم پر روان منفي اغېز کوي او په راتلونکې کې ترې سخت زړی او بې پروا کس جوړېږي.
ښه ده چې ماشومانو ته د هغوی له سویې سره سم د ماشومانو اړوند داسې لوبې انسټال شي، چې هم یې فکري قوه پیاوړې شي او هم ترې مثبت تقلید وکړي. د ماشوم ذهن سپین کاغذ ته ورته دی، چې څه غواړې پرې لیکلی یې شی. ماشومان اوس تر ډېره په کلي او کوڅو کې د سیمې مروجې لوبې نه کوي او د دې ټولو ځای کمپیوټري لوبو نیولی دی، چې ډېری یې د ماشومانو لپاره خورا گواښوونکې دي. میندې او پلرونه باید د خپلو ماشومانو راتلونکې ته جدي پاملرنه وکړي او پرېنږدي چې ماشوم یې سخت زړی، خشن او بدماش لوی شي.

## د اناناس له گټو به نه وی خبر



اناناس، په استوایي سیمو کې تر کېلې وروسته ډېره خوښېدونکې مېوه ده. اناناس د برومیلیاد کورنۍ یوازېنۍ مېوه ده، چې د خوراک وړ ده. دا مېوه روغتیا ته خورا ډېرې گټې لري چې دلته یې د ځینو یادونه کوو.
په دې استوایي مېوه کې شته مگنیزیم د هډوکو په جوړولو، تقویې او د ماتو شویو هډوکو په پیوند کولو او درملنه کې بې ساري مرسته کوي. اناناس د التهاب ضد خاصیت لري او دردونه اراموي. په اناناس کې شته برومیلین په بدن کې له اضافي اسیدو سره مقابله کوي، له منځه یې وړي او له پانقراس څخه ترشح کېدونکې مواد چې له هاضمې سره مرسته کوي، منظموي. اناناس همدا راز د ویټامین سي بډایه سرچینه بلل کېږي او له هغو ویروسونو سره مقابله کوي، چې د ټوخي او زکام لامل کېږي. گټه یې د هغو کسانو لپاره ډېره ده چې په ژمي کې یخ وهلي وي او په اسانۍ سره نه روغېږي. دغه مېوه اورۍ قوي کوي او د وخت په تېرېدو سره د سترگو د شاوخوا پوستکي د گونځې کېدو مخه نیسي.
اناناس د زړه لپاره گټوره مېوه ده، پکې شته فایبر یې قبضیت له منځه وړي او د هاضمې سیستم پیاوړی کوي. د وینې غوړ منظموي او وده گړندی کوي.